Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Finance
Afghan Customs Department

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
معینیت عواید وگمرکات
ریاست عمومی گمرکات

دحمایت او پرمختیا ریاست
د تقنین آمریت

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د مالیی وزارت
دگمرکونو اوعوایدو معینیت
ریاست عمومی گمرکات

گڼه: ۶۸۳-۳۱۱۶

نیټه: ۱۳۹۳/۱۰/۱۳

**به ریاست محترم گمرک کابل!**

ازاینکه به تعداد صدها لاری حامل اموال مختلف النوع (بلتی) ماهانه وارد کشور میگردد و نسبت عدم موجودیت سامان آلات تخلیه و بار درگمرکهای کشور، تشریح اموال بلتی که به صدها قلم میرسد امکان پذیر نبوده و زمانیگیر میباشد که اغلباً دراینگونه اموال درکنار سایر اموال تجارتی، مواد مختلف النوع که درساختن مواد مخدر و موا د انفجاری از آن کارگرفته میشود نیز انتقال و وارد کشور گردیده که وقتاً فوقتاً اینگونه اموال ممنوعه و غیرمجازنیز دستگیر گردیده اند.

بناً جهت کنترول ونظارت بهتر طی مراحل اموال مختلف النوع (بلتی) درگمرک های کشور، طرزالعمل جدید طی مراحل اموال بلتی جدیداً تهیه گردیده که از تاریخ اول برج دلو سال ۱۳۹۳ قابل اجرا میباشد؛ لذا به تمام گمرکهایکه اینگونه اموال را درگمرکهای مربوطه شان طی مراحل مینمایند هدایت داده میشود تا سر از تاریخ اول برج دلو سال جاری اموال (بلتی) را مطابق این طرزالعمل طی مراحل نمایند.

هکذا ذریعه مکتوب هذا یک کاپی طرزالعمل طی مراحل اموال مختلف النوع (بلتی) به اتاقهای محترم تجارت وصنایع غرض اگاهی شرکت هایی که اموال بلتی را وارد کشور مینمایند ارسال میگردد تا شرکتها را ازموضوع اگاه ساخته تا بتوانند بارگیری و طی مراحل اموال خویش را مطابق طرزالعمل جدید عیارسازند وسر از تاریخ متذکره اموال بلتی مطابق این طرزالعمل طی مراحل میگردد و درزمنیه هیچگونه سهل انگاری قابل پذیرش نمیباشد.

موضوع فوقاً غرض اجراات بعدی بشما گسیل گردید تا اجراات خویش را مطابق طرزالعمل تنظیم نموده وازصورت اجراات خویش به ریاست عمومی گمرکات اطمینان بدهید ودرصورت عدم رعایت طرزالعمل متذکره با متخلفین برخورد قانونی صورت میگیرد.

**. بااحترام**

**گل مقصود " ثابت "**

**معین عواید و گمرکات**

کاپی هابه:
گمرک ننگرهار، کندهار، کندز، بلخ، آقینه، هرات، خوست، نیمروز، فراه، پکتیا، پکتیکا، بدخشان، کنر، زابل
اتاق تجارت وصنایع ریاست تسهیل قانون- تخنیکی- عملیاتی و سکرتریت ریاست عمومی گمرکات و آمریت تابعی

پته :د گمرکونو او عوایدو معینیت، کابل جلال آباد لویه لاره، کابل افغانستان، اړیکی شمیره : 0093 (0)752015014
بریښنا لیک: customs_coordination@yahoo.com ویب پاڼه: www.customs.mof.gov.af

۰۱۶
۱۳۹۳/۱/۱۴

د مالیی وزارت

د ګمرکونو لوی ریاست

# د ګنډو/ بلټی توکود ګمرکی طی مراحلو کړنلاره

نیټه : مرغومی ۱۳۹۳

**لومړی ماده**

تعریف

بيلتي ( کندي) د هغه توکو څخه عبارت دي چي محموله يي د مختلفو توکو څخه تشکيل شوي وي او په انفرادي توګه د حقيقي اشخاصو له لوري په ګاونډي هيوادونو کي د بارچالاني شرکتونو يا ليږدونکو ته سپارل، او د دوی په واسطه افغانستان ته را ليږدول کيږي. معمولاً د بيلتي توکي په ليږدونکو پوري اړه نلري صرف د ليږدوني او ګمرکي مرحلو طي کولو مسوليت يي په غاړه لري.

**دوهمه ماده**

موخه

ددی طرزالعمل اساسي موخي د ناسم او تور سوداګری کچه راټيټول، د عوايدو لوړوالی، د غير معياری،ممنوعه، غير مجاز او منفجره توکو د وارداتو مخنيوی دی.

**دريمه ماده**

ستونزه

له ډيری مودی را هيسی د افغانستان د ګاونډيو هيوادونو څخه يو تعداد شرکتونه چي په اصل کي واردونکي نه بلکه د توکو انتقالونکي دي او د نورو اشخاصو او شرکتونو اړوند سوداګريز توکي دبيلتي (کندی) په توګه د افغانستان ګمرکي قلمرو ته را واردوی. کندی په يو ليږدونکي وسيلي کي چي ځوګوني ډوله توکي پکي شتون لری د تعداد، مقدار او کيفيت د څرنګوالی له مخي يي سم معلومات ګمرک ته نه اظهاريږی. د دغه ناسم تجارت شتون ګمرکونو، سوداګرو او عامو خلکو ته يو لړ جدی ستونزی رامنځته کړی چي په لنډه ډول لاندی د ذکر وړ دی:

- ګمرکونو ته د صحيح اسنادو نه وړاندی کول، غلط اظهار او د عوايدو ضايع کيدل
- د محمولي د پيچلتيا له امله په محموله کي د غير معياری، ممنوعه، غير مجاز او منفجره توکو د شتون احتمال
- ګمرکي کارکوونکو ته د سمي تشريح او فزيکي معايني د پروسي پيچلتيا
- د کره او دقيقي سوداګريزی احصاييي نه راتوليدل
- د ښه او قانوني سوداګری نه حمايه او د ښو سوداګرو ته د سم رقابت د شرايط نه برابرول
- د ټولني او چاپيريال د حفاظت او سلامت اصل نه رعايتيدل

## څلورمه ماده

عمومي شرایط

1. دګمرکونو قانون د یولسمي مادې (۲) فقرې او درې پنځوسمي مادې (۲) فقرې په رڼا کې هغه شرکتونه چې غواړي د ګنډې توکي ددغه کړنلارې په اساس ولیږدوي باید د سرحدي ګمرکونو سره ۴ میلیونه افغاني ددایمي تضمین په توګه وساتي. د ګنډې د توکو د لیږد شرکتونه نشي کولې عادي سوداګریز توکي او یا د شرکتونو توکي انتقال یا وارد کړي.
2. د ګنډې توکي چې افغانستان ته واردیږي په لاندې ځایونوکي تشریح او ګمرکي مراحل طي کولای شي:
   - i. **په سرحدي ګمرکونو کې:** لکه د تورخم او ویش چې د تخلیې، تشریح او محصول امکانات پکې موجود دي د بیلتي توکي کیدای شي په دې سرحدي ګمرکونو کې طي مراحل شي.
   - ii. **په محصولي ګمرکونو کې:** په سرحدي ګمرک کې د تضمین د ورکولو او د T1 دترتیب نه وروسته لیږدونکي کولای شي چې خپلې د بیلتي محمولې په محصولي ګمرک کې په مکمل توګه تخلیه، تشریح او محصول کړي.
   - iii. په ځانګړي حالاتو کې ګمرکونه کولای شي د بیلتي توکي دګمرکي طي مراحلو او د محصول د اخیستلو د موقعیت په اړوند خپل مناسب تصمیم و نیسي.
   - iv. د ګمرک مامورین کولای شي د اړتیا په وخت کې په هغه ځای که چې د بیلتي توکي په کې تخلیه کیږي حضور ولري د مثال په توګه د بیلتي اډه او یا ګدام او بل کوم ځای چې مخکې له مخکې تعیین شوی وي. پدې حالت کې به د ګمرک مامور مکلف وي چې د اظهارشوو اسنادو سره سم د تخلیه څخه وروسته د توکو نوعیت او ټول نور مشخصات معلوم کړي.

## پنځمه ماده

د لیږدونکي شرکتونو مسولیتونه

۱- لیږدونکي شرکتونه مکلف دي دتسلیمیدو په وخت کې د توکو مکمل مشخصات، قیمت، کمیت او کیفیت څخه پوره ډاډ حاصل او د توکو د مالکیونو څخه لاندې معلومات تر لاسه کړي:
- د مال د خاوند څخه دتوکو د پیرلو اسناد (انوایس، بل)
- دبارولو او په افغانستان کښې دخالې کولو ځای او دقیقه پته.
- د لیږدونکي وسیلې مشخصات.
- د هرې بستې د خاوند نوم، مکمله پته او تلیفون شمیره.
- د هر مال د اړوند توکي نوم، تعداد، مقدار، وزن، د منشاء هیواد نوم او قیمت.

۲- شرکتونه مکلف دي چې په ګاونډي هیوادونو کې د توکود تسلیمیدو په وخت کې د هغې دقانونیت په هکله پوره ډاډ حاصل کړي. او هغه مالونه چې منع دي او یا د ګنډو په شکل یې واردول غیر مجاز دي لکه (سریع

الاشتعال، سریع الفساد، درمل، غذایي مواد، مُبایل، او قیمتي فلزات) په محموله کې بارنکړي او کچیري وروسته ګمرک ممنوع اموال د تشریح په وخت کې پیدا کړل د قانون سره سم ضبط کیږي.

۳- شرکتونه مکلف دي چې د افغانستان ګمرکي قلمروته په داخلیدلو سره سم په لارۍ او یا کانتینر کې د ټولو واردیدونکو مالونو عمومي جدول (معیاري فارمټ ددې کړنلارې سره مل دی)، مکمل بارلیک او انوایسونه دځان سره ولري او ګمرک ته یې تسلیم کړي.

۴- شرکتونه مکلف دي چې توکې په منظمه توګه بنډل او یا په کارتنونو کې ځای پر ځای کړي. او په هر کارتن دې د توکو مشخصات او د خاوند نوم ولیکي.

۵- د ګنډې توکې باید په کانتینرونو او یا هغه ډول لیږدونکي وسیلو کې انتقال شي چې په بشپړډول د سیم او سرغچ ور وي.

**شپږمه ماده**

د ګمرکي کمیشنکار مسؤلیتونه

په سرحدي او محصولي ګمرکونو کې ګمرکي کمیشنکاران مکلف دي چې د هیواد ګمرکونو ته دې د بیلټي مالونو د اظهار په وخت کې د توکومکمل مشخصات، قیمت، مقدار، وزن، کمیت او کیفیت څخه پوره ډاډ حاصل کړي. او همدارنګه دې د شرکتونو څخه د پنځمې مادې سره سم ټول اسناد د ترلاسه او د مکمل ډاډ ترلاسه کولو وروسته دې نوموړي محمولي ته اظهارلیک ترتیب کړي.

**اوومه ماده**

د سرحدي ګمرکونو د مامورینو مسولیتونه

1. د سرحدي ګمرکونومامورین مکلف دي چې هیواد ته د بیلټي مالونو د واردیدو په وخت کې د توکومکمل مشخصات، مقدار، وزن، کمیت او کیفیت څخه پوره ډاډ حاصل کړي. او همدارنګه د کمیشنکار څخه مکمل اسناد (د پنځمې مادې سره سم) ترلاسه کړي او د ډاډ ترلاسه کولو وروسته دې ټول اسناد په ځانګړي توګه عمومي جدول مهر او امضا او نوموړي محمولي ته T1 ترتیب کړي.
2. د سرحدي ګمرک کمیشن کار او ګمرکي مامور د T1 او اظهارنامې د ترتیب په وخت کې مکلف دي چې په مربوطه خانو کې د ګنډو (بیلټي) مشخص کود ولیکي.
3. د سرحدي ګمرک مامورین مکلف دي چې د ګنډې لاریو یا کانتینرونو ته د T1 ترتیبولو په وخت کې وزن (د ګمرکي تلې په موجودیت کې) او وروسته سیم او سرغچ ولګوي.

**اتمه ماده**

د محصولی گمرک مسولیتونه

د محصولی گمرکونود دخولی دروازی مامورین مکلف دی د دخولی دروازی دثبت او راجسترڅخه وروسته دگنډی لاری یا کانتینرونه یو خاص گدام ته معرفی کړی او هلته د مربوطه شرکت د استازی په موجودیت کی تخلیه او مکمل تشریح کړی.

**نهمه ماده**

**انفاذ**

دا کړنلاره د منظوری څخه وروسته د سلواغی میاشتی له لومړی نیتی څخه د تطبیق وړ ده.